# إِنَّ النَّاسَ إِذَا رَأَوْا الظَّالِمَ فَلَمْ يَأْخُذُوا عَلَى يَدَيْهِ أَوْشَكَ أَنْ يَعُمَّهُمُ اللَّهُ بِعِقَابٍ مِنْهُ». "کله چې خلک يو ظالم ووينې او د ظلم څخه يې لاسنيوی ونه کړي، لرې نده چې الله به په دوی ټولو خپل عذاب راولي

له ابوبکر صديق رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: اې خلکو تاسو دا آيت تلاوت کوئ : {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا عَلَيْكُمْ أَنْفُسَكُمْ لاَ يَضُرُّكُمْ مَنْ ضَلَّ إِذَا اهْتَدَيْتُمْ}،يعنې :اې مومنانو! د خپلو ځانونو غم کوئ، د بل چا بې لارېتوب درته کوم تاوان نه رسوي کله چې تاسو خپله پر سمه لار یاست} او يقينا چې ما له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه اورېدلي چې فرمايل يې: «إِنَّ النَّاسَ إِذَا رَأَوْا الظَّالِمَ فَلَمْ يَأْخُذُوا عَلَى يَدَيْهِ أَوْشَكَ أَنْ يَعُمَّهُمُ اللَّهُ بِعِقَابٍ مِنْهُ». "کله چې خلک يو ظالم ووينې او د ظلم څخه يې لاسنيوی ونه کړي، لرې نده چې الله به په دوی ټولو خپل عذاب راولي".

[صحيح دی] [ابو داود، الترمذي او النسائي په الکبری کې او ابن ماجه او احمد روايت کړی دی]

ابوبکر صديق رضي الله عنه فرمايي چې خلک دا آيت تلاوتوي: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا عَلَيْكُمْ أَنْفُسَكُمْ لاَ يَضُرُّكُمْ مَنْ ضَلَّ إِذَا اهْتَدَيْتُمْ} [المائدة: 105]. {اې مومنانو! د خپلو ځانونو غم کوئ، د بل چا بې لارېتوب تاسو ته کوم تاوان نه رسوي چې خپله پر سمه لار یاست} [57] او لدې داسې پوهه اخلي چې انسان بايد يوازې د خپل ځان په اصلاح کې کوښښ وکړي، او د بل چا بې لارېتوب ورته ضرر نه رسوي کله چې بې لارې شي، او دا چې په امر بالمعروف او نهی عن المنکر مکلف نه دي! نو پوه يې کړل چې داسې نده، هغه له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه اورېدلي چې فرمايل يې: خلک چې کله ظالم وګوري او له ظلم څخه يې منع نه کړي، پداسې حال کې چې د دې کار وسه لري، نو نږدې ده چې الله به په ټولو خپل عذاب راولي، څوک چې منکر کارونه کوي او څوک چې پرې چپ پاتې کيږي.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee